مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پروفیسور عبدالخالق رشید

۲۰۱۸/۰۳/۱۲

## د خوشال پوهني یوه زرینه پاڼه

# د خوشال یوه قصیده او د کشمیر شالیمار



لوی شاعر، لوی مفکر، لوی تاریخپوه ، لوی ټولنپوه او د علومو د بیلابیلو برخو یوه لویه هستي خوشال خټک (زیږید ۱۶۱۳ م) موږ ته هغه څه ویلي چې هغوته د چا پام نه ورسیږي او هغه څه یې په خپل وخت کې ویلي چې اوس اوس په ډیرو څیړنیزو برخو کې څیړونکي له چلنجونو سره مخامخ کوي ، داسې څه یې ویلي چې نورو مورخینواو لیکوالو کلونه کلونه هغه په یوه بڼه راټلونکو ته لیږدولي دي ، خو خوشال چې څه وایی او یایې ویلي دي هغه له دغو تاریخي لیکنوسره په تیره بیا زموږ او دهند د نیمې وچې په برخه کې پرهغو تیرو وینو باندې د پوښتنې پرپولو درېږي اود حقایقو هغه اړخ موږ ته را په ګوته کوي چې اوس باید په یوشمیرلیکنو باندې له سره غور او له سره کتنه وربانديې وشي . موږ کلونه کلونه وویل چې خوشال خپل نامتو اثر « دستارنامه » د فارسي ژبې سیاست نامې دلیکوال پرپله لیکلي ، داسې چې ګویا له هغه یې تقلید کړی دی ، په داسې حال کې چې خوشال کیدای شي نه دعنصرالمعالی سیاست نامه لوستي وي اونه یې هم ورپام وي ، ځکه چې دخوشال په چاپیریال او ماحول کې داسې آثارچې تر عنصرالمعالي او نورو په زرګونو کاله لرغوني اوپخواني وو ترسترګو کیدل . چې یوهم په دغو اثارکې هغه د کوشالیه یا کوتالیه نامتو اثر ( آرت شاستر) وي ، دغه اثر اوس دهندوستان د سیاسي پوهنځیو په کرکولم کې دیوه حتمی تدریسې مضمون بڼه موندلې ده چې په ډیروحقوقي ، هنري او انفرادي برخو کې ډیرڅه دخپل لوستونکي په واک کې ورکوي . موږ یوازې دیوه اثر نوم زده کړې و، چې سیاست نامه وه ،خو زه بیاهم پوره باوري نه یم چې زموږ نومیالي خوشال به له دغه یوه څخه هم ګټه پورته کړې وې ، خو دا ویلای شو چې ده په خپل وخت او دخپل قوم او تاریخ لپاره دداسې یوه اثر لیکل اړین بللي چې هغه یې له خپل فکر او تحلیل سره سم د دستارنامی په بڼه، هغه هم په زندان کې ، په شپږو یا اوو ورځوکې لیکلي دی چې نن سبا له موږ سره په خپل کوچني کمیت دلوی اهمیت لرونکی اثردی . ددغه اثردتقلید په اړه زه له هرډول تقلیده ځکه منکریم چې که خوشال دغه اثرد چاپرتقلید لیکلی وای ، نو بیا ترې له یوه پلوه نه له یوه پلوه دتقلید بوی او څرګندونه کیدله. په داسې حال کې چې د دستارنامې لپاره دداسې یوه نامه ټاکل په خپل ذات کې دخوشال له فکري او سیاسي نبوغ سره په هراړخیزه توګه تړلې او اړوند حقیقت دی .

په هرډول ، خپلې اصلي موضوع ته راځم اوهغه داچې خوشال پوهنه نن سبا یوعلمی مفهوم ، د نویو څیړنو لپاره یو نوی لاربسود ، چې باید د پوهانو په واک کې ورکړه شي ، څو پردغه مهم مضمون باندې دعلومو نویو څیړنو ته لاره پرانیستل شي ، خوشال چې څه په خپل وخت کې لیکلي ، دهغولیکنو لپاره د لوستونکي شمیر دده ترکورنۍ او خپلوانو پرهغه خوا نه و ، دی پردغه رمز باندې د زړه له کومي پوهیده ، او دغه ټکي ته یې پام و چې دی یې دچا لپاره ،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

دکومو خلکولپاره اود کومو پوهو او لړ ترلږه په لیک لوست پوه پښتنو لپاره لیکي ،که لړ رښتیاوو ته سره کینوخوشال دغه نومیالي پښتون افغان په همدغه ارمان مړشو ، په همدغه لامل یې خپل جاهل اودده په خپله وینا ناپوه قوم چې دجهالت پرلامل یي ( په حیا او شجاعت يې ... ) باندې محکوم کړدا خبره وکړه چې اوس مې داخلک ، داقوم په قدرنه پوهیږئ ، خو یوه ورځ به داسې راشي چې لکه مچان به زما پرخوان باندې بنیږئ اوچغي به وهئ چې لوی لیکوال ، لوی مفکراو لویه انساني هستي و...

د خوشال قدر که اوس په هیچا نشته　　　　پس له مرګه به یې یاد کا ډیرعالم

ما ځوکاله پخوا یوه مقاله لیکلې وه چې سرلیک یې (خوشال پوهنه د هند پوهنې جام جم) و، په هغې کې ما د خوشال پوهنې یو لړ ځانګړنو ته اشاره کړې وه ، په همدغه لړکې دادی د لوی خوشال یوه قصیده دلته له یوه تاریخي ځای (شالیمار )سره چې د کشمیر په پلازمینه کې جوړشوي او د هندوستان او کشمیر په تاریخ کې لوی اهمیت اونوم لري په لنډه توګه تشریح کوو، هلته چې خوشال په (۱۰۵۸ هجري کال په نوروز کې) د یوه درانه میلمه په توګه رسیدلي را سپړو. خوشال په خپله دغه قصیده کې برسیره پردې چې د شالیمار ښکلا یې زموږ په وړاندې انځور کړې ، د دغه بڼ د جوړښت په اړه هم موږ ته یو لړ نوي معلومات چې ما د هندوستان په تاریخ ، د جهانګیر(۱) په لیکنو او نورو کې نه دي لوستی په واک کې راکوي ، مخکې تر دې چې پر دغه قصیده باندې د خپلو خبرو لړۍ وغزوو، ښه به داوي چې دغه قصیده دلته ژوندې را واخلو ، ویی لولو او بیا هغو ټکو ته اشاره وکړو چې دلته زموږ لپاره ، زموږ دځیرنې لپاره د پاملرنې وړ دي ، خوشال وایی :



چې موسم مې د ګلونو د ګلزار شي　　　　نرم نرم ترشح په مرغزارشي
د هغه له بخته ځوک برابري کا　　　　چې په هسې وخت یې سیر په ګلزارشي
نن زما طالع له ما سره مدد کا　　　　بخت دې هرکله دا هسې مدګارشي
چې مې ناسته د صورت په هسې ځای ده　　　　چې ثنایې په لته د هندوبارشي
په دا ځای چې د ابدالو نظر وشو　　　　عاقبت به په همه جهان اوځار شي
په چمن کې یې اوبه درومي رواني　　　　په سبزه باندې نارې د جویبار شي
په دا هسې پاکیزه اوبو سلسالو　　　　شماتت یې د کشمیر په شا له مارشي
د سړي سترګې روښاني زړه خوشال کا　　　　چې اوبه د فوارو سره تار په تارشي
چې له پاسه نه اوبه را ځي په کښته　　　　وایي سپینې مرغلرې دې نثارشي
هغه ځای چې د مرمرو فوارې دي　　　　تردغه ځای دې د ارم تماشه ځارشي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته به وايې د اسمان تنا غورا شوه — چې اوبه ترې را روانې د ابشار شي
چې په سريې د حوضونو ځوک ګذرکا — وايي پاس په آئينو باندې رفتارشي
مرغاوۍ يې په حوضونو کې غوټې لي — دمحل په مخ کې ناست دبازو ښکار شي
ته به وايې د نمرود د اور لمبې دي — سره لالا چې په چمن کې انتشارشي
سه برګه يې عجايب سره وو دلي — فرق يې لا ديراقونو ترکارشي



په اطراف د هر چمن شګفته شوي — د زنبقو د سوسنو هم ديدار شي
په دا باغ کې د ګلونو کمی نشته — د همه واړو د چا په ژبه شمار شي
که سل برګ که بنفشه که ارغوان دي — د هرګل په ننداره خاطر قرار شی
د هغه صانع تر صنعه صدقه شم — چې يې هسې د قدرت په لاس نګارشي
واړه ونې يې آسمان سره سيالي کا — ولي فرق په کې د ولې د چنار شي
په دا باغ کې بيګانه هم کوپار کا — ماوې ونهن په چندړ پورې رويدارشي
په هزار رنګه نواشي د مرغانو — هغه دم چې په چنارو کې چغارشي
د مرغونو د نوا له موجه ښوري — نه له باده ښوريدنه د اشجارشي
عمارت يي ګچ وهلی په کې کړی — په هر کور کې د جويونو شرهارشي
دوه سوه تيرسو رهروان دي په کې طرح — د سپين والي يې تيری په سپين چوتار شي
لطافت يې د هوا تر حده تير دي — په کې روغ به د اتيا کالو بيمار شي
که زاړه په ده کې کيناستی زلمی شوی — په هوا يې زما هسې اعتبار شي
دا مکان به د بهشت سره داخل کا — که رضوان يې له نشاطه خبردارشي
همګی صفت يی تير دی تر حسابه — له همه و که ويل کوم طومار شي
دا بنا د آصف خان (۲) له لاسه شوي — اوس په حکم د خورم په کې دا کار شي
زر اته پنخوس کالونه د هجرت وو — د نو روز په دولسم چې دا ګفتار شي

په خوشال وو هم دا هرمره چې ويل شول
نور د عقل حکم نه دی چې تکرارشي

(د خوشال کليات د مشواڼي په زيار ۶۳۰ مخ )


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



د خوشال په شعرکې شاليمار د (شا له مار) په بڼه راغلی دی، خو له آره سانسکريت ويی دی چې بشپړه مانايی (دمينې استوګنځي) ده ، دغه ځای له هغه وخته چې د (۷۴ – ۱۳۰ م) کلونو په ترڅ کې د وخت د واکمن دويم (پرو وار سينا Provarsena II ) له خوا دسرينګرد ښار بنسټ کيښودل شو د پاملرنې وړځای و، پوهان وايی چې د اوسني شاليمار پرسيمه باندې د يوه صوفی استوګنځي ياعبادت ځآی و چې خلک به يې درناوي ته راتلل. داسيمه په لوړه ده چې د سرينګر ښاريي په لمن کې پروت دی ، دا بڼ د دل ليک پر شمال ختيز اړخ پروت دی ، په زياترو هندي اخځونو کې دا خبره شوې چې د دغه بڼ د جوړښت لومړنۍ طرح په ۱۶۱۹ کال کې د جهانګير په زمانه کې وشوه، وايي چې پرهغه مهال يې نوم (فرح بخش) و، تولې جوړونې يې په ۱۶۳۰ کال کي پای ته رسيدلې چې په همدغه کال يې دغه بڼ خپلې نوميالۍ ملکې (نورجهان) ته ډالۍ او د هغې په نامه کړ. د شاه جهان په واکمنۍ کې پرهغه مهال چې ظفرخان د کشمير حاکم و، دشاليمار نوم يوځل په (فيض بخش) باندې واوښت . تاريخ ليکونکی وايي چې دغه ځای په ټوله مغلي دوره کې خپل ځانګړي پرتم درلود ، ان پرهغه مهال چې مغلي واکمني په هندوستان کې له پښو ولويده ، له هغه وروسته د پټانانو (افغانانو) او سيکانو د واکمنيو په شپو ورځو کې هم شاليمار خپله ښکلا او خپل اهميت له لاسه ورنه کړ. د جهانګير پرمهال شاليمار دومره اهميت درلود چې په اوړي کې به يې خپل تخت او دربار هم دلته را ليږداوه ، همداوه چې د ده د غه تګلاره انګريزانو هم چې کله ډيلی د خپل مرکز په توګه وټاکه په پام کې ونيوه ، په اوړي کې به ويسرای خپله اداره له ډيلي شملې ته را ليږدوله . د جهانګيرلپاره کشمير او شاليماربڼ ځانګړی اهميت درلود. ديوان خاص او ديوان عام يې په خپله دمانۍ په ترڅ کې دا په ګوته کوي چې ده هندوستان له همدغه ځايه لارښونه کاوه . شاليمار د شاه جهان (۳) په زمانه کې هم خپل پرتم له لاسه ورنه کړ، يوه ودانۍ د (تورې کيږدۍ) په نامه د ده په زمانه کې له تورو مرمرو ډبرو څخه په کې جوړه شوه ، ځکه خو يې پرتم او وړتيا نوره هم زياته شوه او په رښتيا هم دغه ښکلی بڼ د دغه نامتو شعر جوګه شو چې ويلي وو :



اګر فردوس بر روی زمين است همين است و همين است و همين است

شاليمارد مغلي معمارۍ يو شهکاري جوړښت و، همداو چې په تقليد يې شاه جهان په ډيلی او لاهورکې هم شاليمارونه جوړکړل ، د ډيلي شاليمار په ( ۱۶۵۳م ) کال او دلاهور شاليمار په ( ۱۶۴۱م ) کال کې جوړشول خو د ښکلاکوم طبعی پرتم چې د سرينګر او کشمير شاليمار درلود په دغو نورو شاليمارونو کې نه و. د شاليمار په اړه ويل شوي چې د دغه بڼ ښکلا د کال په دوو موسمو کې خپلې لوړتيا ته رسيږي چې يو پسرلی دی او بل هم منې ، په پسرلي چې کله پاڼې شنې شې شاليمار وغوړيږي ، او په منې کې چې د ونو او چنارونو پاڼې زيړې شي ، نورهم سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وپخسيږي. او نورهم هغه تصوير موږ ته په روښانه توګه راښيي لکه چي خوشال په خپله قصيده کي زموږ په وړاندي انځورکړی دی . دشاليمار يا شاله مار نوم تر کندهارهم رسيدلي چي هلته پرهغه ځای باندې اينودل شوی چي دکندهارتوله ښکلا په کي له ورايه ښکاره ده ..

**د خوشال دغه ښکلي شعر:**

د خوشال دغه پسرلنی لنډه قصيده په ډاګه کوي چي دی په هغو شپو ورځو کي کشميرته تللی چي هغه د ده او د مغلي واکمن شاه جهان ترمنځ د دوستی شپي ورځي دي ، قصيده په ډاګه کوي چي دی دلته ديوه درانه ميلمه په توګه ناست دی او په همداسي حال کي د شاليمار بڼ له پسرلنی ننداري څخه خوند اخلي :

نن زما طالع له ماسره مدد کا          بخت د هرکله داهسي مدد ګار شي



او له دغي قصيدي داسي ښکاري چي دی اوس له خپله بخته هم شکوه او سرټکونه نه لري، او هغه څه چي ده ته ښکلي او شاعرانه ښکاره شوي، هغه يي په دقيقه توګه په يوه ځانګړې ښکلا سره انځورکړي دي او هغو ته يي د جنت په سترګو کتلي دي:

دا مکان به د بهشت سره داخل کا          که رضوان يي بې نشاطه خبر دار شي

خوشال که له يوي خوا دلته خپل شاعرانه مهارت څخه کار اخستی ، ده په دغه اړه يو ځانګړی نظرهم وړاندي کړی دی، او هغه داچي:

دا بنا د آصف خان له لاسه          وس په حکم د خورم په کي دا کار شي

په دغه اړه خوشال لومړني ليکوال او مورخ دی چي د دغي ودانی طرح او جوړښت يي په آصف خان، پوری تړلي دي، کله چي د هندوستان د تاريخ دغه څيړکي لولو هلته په رښتيا هم له دغه ټکي سره مخامخ کيږو او ټولو همدا يوه خبره کړې چي دا مانۍ او دابڼ جهانګيرجوړکړی دی، خو دا چا نه دي ويلي چي دغه شهکاري جوړښت اوماڼی ترجهانګيرهم دمخه د هغه دنوميالی ملکې نورجهان مشر ورور او د جهانګير د دربار مهم رکن د خپلي خور په خاطر جوړکړی او پيل کړی دی ، آصف خان د خپل وخت په امراوو کي د ځانګړي ذوق خاوند و،د خوشال خبره څکه سمه ده چي ده دا کار د نورجهان په غوښتنه ترسره کړی او د دغي مانۍ طرحه او لاربښودنه هم بايد آصف خان غونډې يوه هنرپالي چاروکي کړې وي ، څکه چي هغه يوه دوره دلاهور حکومت هم کړي دی ، هغه د پنجاب او کشمير او تر يوه حده د کابل د صوبو له جغرافيې او روانو پيښو سره په هراړخيزه توګه آشنا و . آصف خان د شاه جهان دګرانې ميرمنې او ملکې ممتازمحل يا تاج بي بي ( تاج بی بي د ممتاز محل کورنی نازدانه نوم و چي دهمدغه نامه له مخې چي کله شاه جهان نړيوال شهکارتاج محل مانۍ جوړه کړه ، پرهغې يي هم د تاج بي بي نازي نوم ( تاج محل ) کيښود چي تراوسه يي په همدغه نامه باندې نړيوال شهرت ترلاسه کړ.

**اځځونه او نښلونې :**

۱ـ **د جهانګير** بشپړ نوم نورالدين محمد سليم جهانګير دی ، د ده په نامه کي د خپل پلار، نيکه اوغورنيکه ( ظهيرالدين محمد بابر ٍنصيرالدين محمد همايون، جلال الدين محمد اکبر) پرخلاف د سليم نوم د ده د پلار اکبر له خوا ورزيات شوی دی ، لامل يي دادی چي کله اکبرد شيخ سليم شاه چشتی درګاه ته له خپلې هندوې ملکي جودا سره ورغی او د نارينه اولاد په خاطر يي د دعا هيله تري وکړه ... له هغه وروسته يي همدغه زوی (جهانګير) پيدا شو، شيخ سليم شاه ته د ارادت پرلامل يي د هغه له نامه سره ( سليم ) هم ور زيات کړ. سليم جهانګير په (۱۵۶۹ م) کال کي زيږيدلی او په ۱۶۲۷ م کال کي يي له نړۍ سترګي پټي کړې دي . د ده د واکمنی په دوره کي په شمالي هندوستان او افغانستان کي يو زيات شمير تاريخی مانۍ او مهم بنونه په اګره ، ډيلی ، لاهور او کابل کي جوړشوي دي . چي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیرلو مخکي په ځير و لولئ

یویي هم همدغه شالیمار بڼ دی چي په سرینګر چي اوس په هندي کشمیرکي راځي دده د واکمنی په شپو ورځو کي دخوشال په وینا د آصف خان له خوا ملکي نورجهان ته جوړشوی دی .

۲- **آصف خان** هم له آره ابوالحسن آصف خان و ، دی د میرزا عبدالغیاث خان زوی و، دوی له آره قندهاریان دی، او له هغه ځایه هند ته راغلي او یا راوستل شوي دي ، آصف خان د جهانګیر په دربار کي له دي امله چي خور یي نورجهان د جهانګیر ملکه وه په نومیالیو درباري اراکینوکي وشمیرل شو، د نورجهان پخوانی خاوند شیرافغان شیرافګن نومیده چي د یوې توطيي په ترڅ کي د جهانګیرله خوا له منځه یوړل شو او میرمن یي نورجهان ځانته په نکاح کړه . نورجهان له شیرافغان څخه یوه لور درلوده چي هغي هم په دربار کي له نورجهان سره په یوه وخت کي مهم ځای اوځانګړی شوکت درلود. د شیرافګن یا افغان کیسه د شیرافغان د کورنی لپاره دیوې غمیزې بڼه درلوده، خو وشوه او جهانګیر په خپله ټول واک اوستم سره د هغه په حق کي ترسره کړه.



شیرافګن یا افغان

نورجهان په ربښتیا دهندي مغلي واکمنی په لاربښونه کي ترجهانګیرهم فعاله ونډه واخیسته او ان چي ځآن یي ترجهانګیر لوړمقام ته ورساوه ځکه خو هغه تش په نامه واکمن بلل کیده. نورجهان په جهانګیري دربار کي ځانګړي فرکیسون یا درباري ډله درلوده چي ترټولو پیاوړی ملاتړي یي خپل مشر ورور آصف خان ، پښتون مشر خان جهان لودي هغه څوک چي دهمدغو اړیکو له امله یي د شاه جهان په وړاندي بغاوت وکړ او دهغه په امر شهید کړشواو نامتوعارف شیخ احمد مجدد الف ثاني اونوروو. آصف خان په جهانګیري او شاه جهاني دواړو دربارونو کي له مهمو کسانو څخه شمیرل کیده ځکه چي د شاه جهان نازولي میرمن ارجمند بانو (ممتازمحل ) هم دده لور وه .

۳- **شهاب الدین محمد خرم** شاهجهان په (۱۵۹۲ م) کال کي زیږیدلی او په (۱۶۶۶ م) کال په اګره کي مړشوی دی، شاه جهان د خپل پلاره تګلاره تریوې کچي وڅارله خو په وروستیو کي یي د یو لړ نارضایتو او درباري فسادونو له امله پیلامه په ټول هند کي را پیل شوه ، همداوه چي له ده څخه یو لړزاند دربار او حکومت دده ناچمه زوی اورنګ زیب ته وریاتي شو، د زامنو ترمنځ یي توپیرونه ددې لامل شول چي په خپلو کي یي سیالی پیل اوله هرې خوایي د واکمنۍ ډنډورې را پورته کړې . له خوشال او دده له کورنی سره یي اړیکي ښه وو، د کابل دلاري مادي او سیاسی واک اوځواک یي اکوړخیلو ته ورسپارلی و ، ځکه خو د خوشال خټک په خوله کي ترهغو چي دي ژوندی ولا اوبه وې اوعملآ یي د شاه جهان د ستاینې ډنډوري وهلي . ځکه خو لکه په پورتنی قصیده کي هم اشاره کوي چي :

نن زما طالع له ما سره مدد کا بخت دهرکله داهسي مدد ګار شي

خوشال خان دشاه جهان په دربار کي یوله منلو مشرانو څخه و، د دوی دواړه اړیکي ډیردوستانه وو، خو له دي سره سره داسي ښکاري چي د خوشال په وړاندي بیاهم یوازي همدغه مغل واکمن، چا چي کله یی هم نه غوښتل چي پښتانه یي په در بار کي په لوړو منصبو وي خوشال ته په درنه سترګه کتل ځکه خو خوشال هم دده ستاینه کړې او دده ځانګړني یي په ډیره دقیقه توګه تشریح کړي دي . خوشال لومړني څوک دی چي که څه هم شاه جهان ده ، دده کورنی ته ډیرامتیازات ورکړي وو ، خو بیایی هم هغه څه چي دده په کرکتر لیدلي هغه یي تشریح کړي دي. دده لویي ځانګړني او زشت عیبونه یي د کلیاتو په (۷۹۵ ) مخ کي په منظمه توګه ویلي دي.

(۴) **نورجهان :** مهرنیسا یا نورجهان په ۱۵۷۷ کي په کندهار کي زیږیدلي ده ، دا د جهانګیروروستی میرمن اوملکه ده ، په جهانګیري دربارکي په پادشاه بیګم باندي هم نامتوشوې ده ، لکه چي مخکي مو یادونه وکړه چي داد شیرافګن میرمن وه ، څوک چي په اکبري دوره کي د بیهار ګورنرو ، جهانګیر په نورجهان باندي مین شو، د خپل تخت ناستي په دویم کال یي شیرافغان ته توطیه جوړه کړه او هغه یي یوې جګړې ته واستاوه او هلته یي مړکړ، له هغه وروسته یي نورجهان ځانته نکاح کړه . نورجهان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



کندهارۍ ملکه نورجهان چاته چې دغه شاله مار جوړشوی دی

په ټوله مغلي دوره کې هغه یوه ، زده کړې او په هرڅوپوه ملکه وه چې په غیرمستقیم ډول یې دهند واکمني لاربنونه کوله .دومره چې جهانګیرخپله د دې په نامه سکه هم ووهله، مورخین لیکي چې: «جهانګیربه ضرب سکه ها زیاد علاقه داشت، درین صنعت ابتکاراتی بخرج داد سکهٔ بنام ملکه نورجهان بیګم ضرب کرد این بیت نقش سکه زد:

زحکم شاه جهانګیر یافت صد زیور ــ بنام نورجهان بادشاه بیګم زر » (ماثرجها نګیري ص ۱۴۴)

لیکونکی لیکي چې جهانګیر په خپله ټوله دوره کې یو کار او یو فرمان هم د دې له مشورې پرته صادر نه کړ، نورجهان په ۱۶۴۵ کال کې مړه شوې او په لاهور کې خاورو ته سپارل شوې ده چې مزاریې په دغه ښارکې دی.

## ممتازمحل

اصل نوم یې ارجمندبانوبیګم و، دا د نامتو درباري آصف خان لور او نورجهان وریره وه چې په ۱۵۹۳م کال کې په اګرې کې زیږیدلی ده. په درباري کچه وروزل شوه او لویه شوه ، دا چې په خپل وخت کې یې د ښکلا بیلګه نه وه ، ځکه خو شهزاده خرم یا شاه جهان ورباندې مین شو، سره له دې چې تر دغه مهاله شاه جهان دوې نورې میرمنې هم درلودې ، خوپردې مین شو، او د دوی دواړو له یوه بل سره سخته مینه وه ، په ۱۶۱۲کال کې یې واده وشو، سره له دې چې په درباري کړو وړو باندې ښه پوهیده او ډیرځه یې د جهاندارۍ په برخه کې زده کړي وو ، خوبیاهم د شاه جهان لپاره د یوې ښې میرمنې په توګه پاتې شوه او د نورجهان غوندې یې له سیاست سره لیوالتیا ونه ښوده . د دې ښکلا او مینه د دې لامل شوه چې د دوی مینه ناکه کیسه د نړۍ له ډیرو نامتو او مینه ناکو کیسوڅخه یوه شي . ممتازمحل په ۱۶۳۰ کال کې له شاه جهان سره د دکن په یوه جګړه کې مله وه ، مورخین لیکي چې دا د دې وروستني سفرو په ۱۶۳۱ کال د خپل ځوارلسم ماشوم د زیږون پرمهال مړه شوه. شاه جهان د دې د مینې په یادون د تاج محل چې ترټولو ښکلي او پرتمینه مانۍ وه جوړه کړه ، اوهلته یې خاورو ته وسپارله ، دغه مانۍ چې نن سبا د نړې له حیرانوونکوهستونو څخه بلل کیږي .اوس د دغو دواړو مینانو وروستې دمه ځای دی.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

(۵) **پیرخان یا خان جهان لودي**، نومیالی پښتون شاهوخیل سردار د نومیالي دولت خان لودي (له دغه دولت خان څخه مراد نا سیاله دولت خان لودي، هغه چې د لاهور حاکم و او د لوی ټولواکمن ابراهیم لودي پرخلاف یې مغل بابر هندوستان ته ور وباله نه دی )



خان جهان لودی په ۱۶۲۹ کال کي

زوی دی، له تنکی ځواني یې له مغلي واکمنانونسره اړیکي وو، په شل کلنی د جهانګیر دربار ته منسوب ځوک شو چې لومړی یې د صلابت خان او وروسته د خان خانان القاب د ځان کړل. دعبدالستاربن قاسم لاهوري د مجلس جهانګیري محترم محشی عارف نوشاهی د دغه اثر په تعلیقاتو کې لیکي چې: « رفتار جهانګیر با او مثل آقا وبنده نبود، بل که دوستانه وندیمانه بود. خان جهان در روزګار جهانګیر و بعد درعصر شاه جهان نیز در دستګاه تیموریان نقش فعال داشت، ولی ازقضا برای او اتفاقاتی افتاد وکارهای انجام ګرفت که وفاداری او به دربار مشکوک شد. فرید بکری مولف ذخیره الخوانین که ده بار با او ملاقات کرده بود، شرح حال او رابه تفصیل آورده است واخلاق وشخصیت خان جهان را بدین کلمات ستوده است: « بزرګی وحسب ونسب خان جهان ازآفتاب عیان تراست. سالهای دراز در هند نام نیک او باقی خواهد ماند . مذهب اهل سنت وجماعت داشت اما برغبت تمام به اهل ایران می کرد... مردی با وقار وبا تمکین ومدبر به حیا وحلم آراستګی داشت » (مجالس جهانګیری چاپ ایران ۲۰۰۵ )

خان جهان لومړنی پښتون و چې دده په پاملرنه د پښتنو د تاریخ لیکلو لپاره هڅه پیل شوه ، ملانعمت الله هروي د ده په پاملرنه او سپارښتنه خپل نامتو اثر (مخزن الافغاني ) په داسې حال کې ولیکه چې چا په مغلي دربار کې د پښتنو، د هغوی د پرتمین تیرپه باره کې خبرې نه شوای کولای خو ده په خپل امر د خپل قام دغه نومیالی مورخ د دې لپاره وهڅاوه څو د پښتنو په باره کې په خپلو څیړنوباندې لاس پوري کړي. خان جهان د خپل وخت په هغو امراوو کې راته چې د پوهې په مټ او ویاړسره یې د پښتواو پښتونوالي پالل پیل کړل او ځوک نه وو چې د ده په درایت، پوهه او وړتیا باندې ګتنیوی وکړي . ځکه خو جهانګیرته مقرب لیکوال په دغه ټکي اعتراف کوي او لیکي : «خان جهان ازطبقه افغانان لودی است که ازغریب نوازی ومردم شناسی آن حضرت واخلاص وعبودیت شایستهٔ خویش در دو سال به منصب والای پنج هزاری سوارذات رسیده، خطاب مستطاب «فرزندی» سربلند وسرفراز است. » (مجالس جهانګیري چاپ ایران ص ۱۹)




---

ډالی: دغه مقاله ثناالله خان لالا ته، هغه چا ته چې لمسي یې په ښکلي کشمیرکي په خوږه پښتو درسره غږیږي په افغاني ویاړ سره ډالی کوم.

---




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ